SMITTSKYDDSBLAD

Patientinformation

Latent Tuberkulos när behandling ej ges

Översättning till pashto

Version 2022-04-11

# پټ نری رنځ، د ناروغ لپاره معلومات

**کله چې د مخنیوي درملنه نه ورکول کیږي. د انتان نه د خوندي پاتې کیدو لپاره د ډاکټرانو معلوماتی پاڼه**

### نری رنځ څرنګه سرایت کوي؟

هغه ناروغ چې په سږو کې یې د نري رنځ مکروب پاتې وي، که چیرې په یو بند ځای کې وټوخیږي نو کیدای شي چې دا انتان نورو ته سرایت وکړي. د نورو اعضاو نری رنځ یا پټ نری رنځ نورو ته سرایت نه کوي. دا یوه غیر عادی خبره ده چې ماشومان له بلوغ وړاندې د سرایت لامل شي. د سرایت خطر هغه مهال نور هم ډیریږي چې له نري رنځ ناروغ سره په یو کوټه کې تر ډیره وخته ناسته وشي د بېلګې په توګه د هغو شیان استعمال کړل شي.

### پټ نری رنځ څه شی دی؟

هر هغه کس چې سرایت ورته ورسیږي په نري رنځ نه اخته کیږي. د ډېرو خلکو د وجود د مدافعت قوه کولی شي چې ددې باکتریا د خپرېدو مخه ونیسي. امکان لري چې دا باکتریا په وجود کې پاتې وي خو فعال حالت ونلري. دې حالت ته **پټ نری رنځ** ویل کیږي.

### پټ نری رنځ ناروغي نه ده

د وینې معاینې (IGRA ټیسټ) یا د پوستکي معاینې (ټیوبرکولین ټیسټ) وروسته چې کله تاسې ته وویل شوي چې تاسو پټ نری رنځ لرئ چې د ناروغیو هیڅ ډول علایم یکي نشته چې د نري رنځ لامل شي. نو تاسې نشئ کولئ چې دا باکتریا بل چا ته ساري کړئ.

که څه هم ستاسې په راروان ژوند کې په نري رنځ د اخته کیدو امکانات شتون لري خو خطر یې کم دی. نو ځکه په ډیري مواردو کې هغه چا ته چې په پټ نري رنځ اخته وي، هغه ته درملنه نه ورکول کیږي.

### په ځینو مواردو کې د مخنیوي درملنه پیلیږي

ځیني هغه خلک چې په راروان ژوند کې ورته ددې خطر ډېر وي چې ګواکې په دې نوموړي ناروغۍ به اخته شي، نو دا رنګه کسانو ته د مخنیوي درملنه پیلیدی شي. په لومړي لاس کې دا هغه کسان کیدای شي لکه حامله ښځې او وروسته له حمل څخه، ماشومانو او ځوانانو او په ضمن کې هغه کسان چې د وجود دفاعي قوه یې کمزورې وي لکه هغه ناروغان چې د سرطان د تداوی لاندې وي، هغه ناروغان چې د انسولینو د تداوی لاندې وي، د شکر او یا هم هغه کسان چې د ګردو په سخته ناروغی اخته وي. سربېره له دې د مخنیوي درملنه هغه کسانو ته هم پیلیدی شي چې تازه د نري رنځ به عفونت اخته شوي وي.

### له ډاکټر سره اړیکه

تاسې پټ نری رنځ لرئ خو ستاسې ډاکټر تاسې ته د درملنې توصیه نه کوي. که چیرې تاسې په راوان وخت کې په اوږد مهاله ټوخې (چې له 3 اونیو اوږد شي) اخته شئ، شپې له اړخه خوله کوله شئ، تبه یا په نه غوښتونکي حالت کې د وزن کیمیدو سره مخ شئ نو خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ تر څو د نري رنځ معاینات مو ترسره کړي. تاسې به هغه وخت کې هم له ډاکټر سره اړیکه ټینګوئ کله چې تاسې حمل ونیولو، یا شکر مو د انسیلینو درملنه لاندې وي، د ګروردو شدید تکلیف لرئ، د سرطان د تداوی لاندې یاست او یا له کوم بل لامله د مدفعت قوه مو کمزورې شوي وي. نو په داسې مواردو کې ستاسې په نري رنځ د اخته کیدو خطر ډیریږي.

### د اړیکو معلومات *(Kontaktuppgifter)*

| |
|---|
| د صحی مرکز نوم *(Namn på mottagningen)* |
| ………………………………………………………………………… |
| د ټلیفون شمیره/صحی مرکز کې د ټلیفون وخت *(Telefonnummer/telefontid till mottagningen)* |
| ………………………………………………………………………… |